# د ګلپاڼو اتڼ

## لومړۍ شعري ټولګه

## سید جیلانی جلان

Ketabton.com

www.samsoor.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خپلې ګرانې او خوږې مورجانې ته ! چې مرګ يې ډېر زيات وژړولم
او اوس هم د زړه په دنياګۍ کې ژوندۍ ده او د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې به په مينه ورته وايم قربان ادې !
خوارېږه پلار جان ته ! چې خپل ژوند کې يې زما په خاطر ډېرې هلې ځلې وکړې او زما له پاره يې د ژوند ډېرې سړې تودې په
خلاصه سينه وزغملې. همدارنګه خپل ځوانيمرګ ورور سيد غني غني ته ! چې خپله تانده ځواني يې د ګران هيواد په
خدمت کې د مرګ استازو ته وسپارله. درې واړو ته لوی خدای ځخه د فردوس جنت هيله کوم.
ارواوې يې ښادې

## مينه ناک دردونه

ژوند چې بې درده وي پيکه وي. کله چې يو څوک په ژوند کې درد احساس کړي نو هغه د ژوند په خوند او مانا پوه شي.
زه هم يو داسې څوک يم چې له درده خوندورې شيبې د شاهانو په سترو پاچاهيو هم نه ورکوم. همدا مينه ناک درودونه
وو چې ماته يې د شعر تار په ګوتو راکړ.
همدا سبب دی چې زما پخپلو شعرونو کې هغه درد ناک شعرونه ډېر خوښېږي، چې د ليکلو پر وخت مې ډېر وژړوي
هغوی خپل سکني وورنه ګڼم... او زه خو ځان ته چندان شاعر هم نه وايم .
هسې د دردونو ژباړه وکړم د لفظونو په جامو کې يې سره ونغاړم او ټولنې ته يې وړاندې کړم. خدای خبر چې د
لوستونکو يا اوريدونکو به خوښېږي او کنه؟ دا يو څو ساده باده شعرونو ته چې اوس مې د کتاب جامې ورواغوستې.
دا د ملګرو په ډېر ټينګار اړ شوم نو ګرانو لوستونکو دا زما لومړنۍ شعري ټولګه ده، انسان نيمګړی دی، ښايي ما په
دې شعرونو کې ډېرې تېروتنې کړې وي ،خو دا چې په راتلونکې کې بيا داسې تيروتنې ونه کړم، نو ماته د يو ورور په
توګه په خپلو شعرونو کې خامۍ او نيمګړتياوې، ښه او بد اړخونه را په ګوته کړئ او خپل خواږه نظرونه پرې ځرګند
کړئ ، نور نو قضاوت تاسې ته پرېږدو ، دا تاسو او دا مو دګلپاڼو اتڼ.

په پښته مينه
ورور مو ، جلان
۱ غبرګولی ۱۳۸۲
غزني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د درد موسیقي

خیر که غریبان یو یا کوو په سادګۍ کې ژوند
ګله ! جنت بویه د ضمیر په ازادۍ کې ژوند

وار دی د طبعیت د خندیدو جانانه زور کوه
ښه په شرنګ غړېږي د سپرلیو په شپیلۍ کې ژوند

ځي ورپسې واړه ژوندي سري د امید پر پښو
سپور د کاینا ت د ښکلاګانو په بګۍ کې ژوند

ته زما د روح د غوټۍ شونډو کې خوره موسکا
ته لکه هنر زما د درد په موسیقۍ کې ژوند

دا مو د حیا سمبول دی د ا مو د سینګار ګاڼه
تاته لوپټه کې ژوند او ماته په شړۍ کې ژوند

نن به دې جلانه غرنی خوی رومنتیک کړمه
کېنه چې د ژبې غوندې درکړم په خولګۍ کې ژوند

۱۳۸۵ وری ۲
اریوب ځاځي خېرمېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو وجود

ګرد يم که غبار يم د پښو پل ته درنږدې يمه
تا پسې د خپل زړه غوندې وتې له پردې يمه

ستا خوږو خبرو ته جانانه دومره تږی يم
ته وا تلوسه د مينانو د کيسې يمه

څه ساده باده يم دومره ستربدلون کې يوه نه شوم
اوس هم شاګردی کې د پيمخې زمانې يمه

زه او ته د مينې په يوه وجود کې ژوند کوو
ته يې د ډيوې رڼا او زه بيخ دډيوې يمه

هسې د خپل روح خوارو اوږوباندې وربار يمه
وجلانه ! سيوری دژوندون دجنازې يمه

۱۳۸۵ مرغومی ۲۱
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زماني بادونه

د زمزمو په اوبو مينځم مينه ناکې کيسې
لکه ياسين داسې خوږې دي د عشق پاکې کيسې

غرونه مو منځ کې دي خو غرونه به خدای ونړوي
زه کوم تاته ، ته کوه ماته ، دعا کې کيسې

په لوپټې کې دې جانانه ځنې ښې پټوه
د زماني بادونه هم کوي بېباکې کيسې

د ستا پر شونډو سره ګلونه کيسې سرې سکروټې
زمونږ پر شونډو وينې وينې او تنهاکې کيسې

ستا جلان هم کله سندرو کې څه داسې وايي
لکه زلمی ناوې ته وکړي شرناکې کيسې

۱۳۸۳ کب ۱۹
اريوب ځاځي خېرمېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښکلا اینې

ته مې ژوندۍ کړې که ما خپل وجدان ته مړینه ورکړه
ستا په خاطر مې د خپل سر قاتل ته وینه ورکړه

منې ! اوبو هم ترې تصویر ستا د ځوانۍ وغوښته
ما چې چینې ته ستا په نوم هینداره سپینه ورکړه

نن خو سکڼې ماښام ته د هر خبر پېښنوې ملګرو
جانان د سرو شونډو وعده له ماسپښینه ورکړه

د کایناتو د ښکلا اینې ژباړمه اوس
چې تخیل ته مې رڼا ستا له جبینه ورکړه

جلانه ! دومره اسان نه دي پسرلي د ځنو
مونږه یې سیوریو ته هم غېږې غېږې مینه ورکړه

۱۳۸۳ سلواغه ۲۳
د ځاځي بابا ادبي غونډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نکریزې

کېنه چې شيبې دې اختريزې کړم
پانې د ګلاب درته نکريزې کړم

تاو مې کړه له غاړې نه رنې لېچې
پربېږده چې هيندارې ماښاميزې کړم

دا ځل که په سره شړۍ کې راغلمه
نجونې د ښاريو به غريبيزې کړم

خدای که مې همدا سې شرنګ کې وساتي
د برې زمانې به سندريزې کړم

ګرځمه جلان د ترنم پر غرو
مړې سترګې د يار چې خلوريزې کړم

۱۳۸۵

اريوب څاځي خبر مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بله ډیوه

د خپل ارمان غوندې یم وراندې ځمه شاته راشم
د جګ غره کاڼي شوم چې وخوزم بیدیا ته راشم

زه چې څېړل د ژوند د هرې فلسفې شروع کړم
په نتیجه کې یې ضرور د ستا ښکلا ته راشم

د ځنو رنګ چې مې شي ساز د طبعیت درو کې
د ذات اوبه شم د شپې تور رګ کې سما ته راشم

لمر چې سر پورته کړي د بلې ډېوې رنګ وارږوي
داسې چې زه د زړه نه ولو بړمه تاته راشم

!یون مې د غشو پر سرو تکیه په خدای جلانه
مور مې هم مړه ده دعا چانه واخلم چا ته راشم؟

۱۳۸۴ تله ۱۴
افغان ادبي بهیر کابل تایمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښایست ګلدره

سره د مخ کاسه دې له غروره کړه
ګرانه ! ښن دې بیا د چا مور بوره کړه ؟

ولې ؟دې وژلو د ا وژلی کس
تا خو سره په مړه ښامار کې توره کړه

بیا د کوم ښایست ګلداره وینبه شوه؟
چا مې ښن دا ښې سترګه رنځوره کړه ؟

ښکلې مې کړه اخ توبه مې ښکلې کړه
ښن مې د خمار د پښو مزدوره کړه

سپینه اینه یې تپې تپې کړه
وخت چې د جلان مینه توروره کړه

۱۳۸۲لړم۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلیمه داره

هلته ساینسدان د لوړ تخنیک په تار ډبره تړي
دلته ګل ژبې سمندر په یوه خبره تړي

خود به د شپې پر پاسني مخ تېوله شپه رڼا وي
دنګه د لمر غوندې رڼه تېوتېه له سره تړي

غرونه که هر څو لوړ شی مخه د لمر نشي نیوای
وخت څه نادان دی زولنو کې مې سندره تړي

.په بنګالیو کوډو نشي دوزخ مخیه !واوره
پېغله زمونږ کلیمه داره له تېتره تړي

د ایینې د سپین ورغوي د پړک پیڅې پسې
جلان ورک یارته د مین زړه مر غلره تړي

۱۳۸۳ چنګاښ ۲۲
کابل رشاد ادبي کره کتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وژني مې ګام په ګام

عجب کیفیت لري دا زړونه څکه زر پټوي
خوږو لیمو کې چې ګل د ښت ګل د ښت نظر پټوي

خبر دی که کښنا ستم د ستا د لو پټې سیوري ته
واورې هم کله کله غبرګو کې سپین غر پټوي

خوله یې په ښو کې ده په یو چرپ زر هینداري ژوبي
اوس د جوهرو پسرلي یو جادوګر پټوي

وژني مې ګام په ګام خو بیا هم مینه ناک دی جانان
د سندرغاړي سل عیبونه یو هنر پټوي

کاږه شکست کې جلان تمه د ژوندون نلري
بیړۍ چې ماته شي ضرور یې سمندر پټوي

۱۳۸۳ مرغومی ۱۵
کابل پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوښکو ژبه

جانان چې کاږي شي د غوښې له قالبه ووځي
زمونږ له سترګو نه د سپينو اوښکو ژبه ووځي

ګرانه ! بيلتون دې زمانې لره پيکه کړم داسې
لکه د ځوان شاعر غزل چې بې مطلبه ووځي

چې پسې وژاړم ښه وژاړم د مه مې وشي
لکه نارو غ نه چې په يخو اوبو تبه ووځي

ياغي جذ بې دې له خيالي ځوانۍ نه وښويدې
لکه تيرې تيرې ليشې له پاخه کبه ووځي

جلانه ! بيا به دې پښتون ايمان کې څه پاتې شي؟
د مينې وړانګه که د مينې له مذهبه ووځي

۱۳۸۳ زمرى ۲۰
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غنم رنګ ستوري

ستا د سترګو سیوري مې لیدلي دي
دوه غنم رنګ ستوري مې لیدلي دي

څه چې پر ګلابو دې نن ولمانځم
ای ! د بڼ پر لوري مې لیدلي دي

ګرانه ! د رڼا د میناري پر سر
ستا د نامې توري مې لیدلي دي

یو شاعر غلام بل تخیل غلام
دوه تنه کمزوري مې لیدلي دي

وړې جلانه ! زړه یو ښتنه نه کوي
دې چم کې سر زوري مې لیدلې دي

۱۳۸۲ سلواغه ۱
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ګلپاڼو اتڼ

د ښکاري نظر د تورو غشو ښکاريو
د دردو په ځېر په سرو پرهارو بار يو

څو سيکې ستا د مسکا لرو په زړو کې
شکر سختې غريبۍ کې هم مالدار يو

مورې ساده يو خو په خپله سادګۍ کې
د شړيو د تارو په څېر ګلدار يو

مه مو وژنه د ښايست مور به کړې بوره
مونږ بچوني د سپرليو د سردار يو

په تناکو پښو په کاڼو په ازغيو
رسيدلي د سپينچکو تر بازار يو

د ديدن وړانګين لاسونه را اوږده کړه
د ارمان په ګرېنګونو کې ايسار يو

! د ګلپاڼو په اتڼ پسې جلانه
ليوني يو خپلو زړو نه راګوزار يو
۱۳۸۳ وری ۸
رشاد ادبي کره کتنه تايمني کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کټ مټ

ستا لیونۍ سترګې له سپینو کاڼو تور اخلي
د فلسفو خبرې ځکه دلته زور اخلي

د دیدنونو مسلمانې شیبې څومره ښې دي
زه له ګلاب، ګلاب ، ګلاب ځېنې ټکور اخلي

پرون یې تا پسې دنیا چڼ کړه خبرېې کنه؟
.سپینچکه ! لمر درنه یو څو جلوې په پور اخلي

زه بې سواده یم په ټکي باندې نه پوهېږم
جانان د خولې ازمېښت هم لکه کانکور اخلي

کټ مټ جانانه ! والله ستا قهر ته ورته ښکاري
د ستا جلان ځکه په غبرګو لپو اور اخلي

۱۳۸۲ لیندۍ ۱۲
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د يادونو سوداګر

نظر د مينې مې د حسن سيپارې تخنوي
لکه سحر نسيم د ګل شونډې پستې تخنوي

زړه را نه غواړي د پستو څنو وږمې ملګرو
بيا مې د اوښکو په رڼو ګوتو ليمې تخنوي

ستا د يادونو سوداګر زما د تن کلي کې
اوس ښه بلد شو د زړه پټې دروازې تخنوي

که مې په ژبه وکړلې دا څه شرم نه دی
زېړو کی لمر هر ماز ديګر کې ګلدرې تخنوي

کله مسکی شي کله غونډې جلوه ګرې پېښې
دا شوخکی نظر د چا دی؟ ايينې تخنوي

دا چې مې سترګو کې راشين شو د سکروټو ګل فرش
د خوب لمن راته جلانه شوګيرې تخنوي

۱۳۸۰ لیندۍ ۵
اريوب ځائې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښکل يې کړه للو دي

ستا د مخ جلوې که پېغلتوب ته رسېدلې دي
زما هم اميدونه زلمېتوب ته رسېدلي دي

چم ته د جانان چې ښايستونو غېږې ورکړلې
پوه شوم چې سپرلي هم مينتوب ته رسېدلي دي

پام کوه د شوخ نظر خاونده غضب مه شينده
دلته ګريوانونه ليونتوب ته رسېدلي دي

ښکل يې کړه للو دي د چا ياده تخنوه يې مه
اوس، اوس پرهارونه ايله خوب ته رسېدلي دي

هغه دي جلانه د ادب د ايينو پيڅې
څومره په هنر، هنر اريوب ته رسېدلي دي

۱۳۸۰لړم۲۰
اريوب ځاځي خيرمېنه

يادونه. دغزل مې د شپې په خوب کې وويلو . کله چې ويښ شوم ټکې مې ياد وو او ومې ليکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لېپې له سخا ډکې

د ښتې دغا ټولو يې رواني د مخ رنګ پسې
غرونه په ګونډو ګونډو ښويېږي په يو دنګ پسې

دې ته تعجب سترګې مې شوې لېپې له سخا ډکې
اوښکې وروړي در ګرده کور ته په ملنګ پسې

سرمو په تلي وي مونږ د ځان قتل غوښتونکي يو
تل ګرځوو زړونه د قاتلو سترګو جنګ پسې

څه ماشوم عادت لري له ځانه څه خبره شه
دا دې شيخ توبې تړي، د ستا د بنګړو شرنګ پسې

زر شه ساقي جانه ! د مودو تندې اخيستي يو
ترک زړونه موچوي خدايګو ، نور د جام په کړنګ پسې

لږ تم شه جلانه يو غزل په حسن وليکه
اوس راځي ملکه د ښايست د رباب ترنګ پسې

۱۳۸۱ وری ۴

اریوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بابولالي

رب چې خورې کړې په فطرت د ښايستونو څنې
مونږه به هم لولو هميش په نظرونو څنې

سپرلی په شونډو له مستۍ نه بابولالې وايي
پاسته نسيم ته اوړي را اوړي د ګلونو څنې

زاهده ته پوه شه او خدای پوه شه چې خوند نکوي؟
دا چې کړې وړې پرتې دي په خالونو څنې

پکې تصوير مې د ښکلوکې جانان لولپه شو
د خيال هينداروکې مې شنې شوې د اورونو څنې

لمر د شغلو په ګوتو بيا د کنډو زړه تخنوي
پر زړو مو و غزيدې بيا د اميدونو څنې

په هغه وخت راځي غوړو ته د مچکو خرپ خرپ
دا لوړ چنار چې لمبوي په ګودرونو څنې

اوس مې جلانه د شهيد ارمان مزار په پيڅو
ډيوې د وينو بلوي د پرهارونو څنې

۱۳۸۰ چنګابښ ۷
اريوب ځائې خېبر مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې کچې تکور

د ايينو په دښتو اور وربږي اور وربږي
لا پرې هغه مړ شوی نه وي چې بيا نور وربږي

د لمر سپينو کو وړانګو تولې کړئ لمنې تربنه
هسې نه تورې شي په دې کوڅو کې تور وربږي

ملګرو لويې حوصلې کړئ د غرور کلی دی
دلته د هر يوه لفظ ځنې زور وربږي

لږ پکې ونغاړه کرم چې نور مې نه څوروي
ستا د نظر تندر خو زما د زړه په کور وربږي

خدايه ! دا کوم ښکلې ګلونه د خندا شيندلي ؟
نن مې دردونو باندې بې کچې تکور وربږي

تو تې تو تې شي د جلان په وير لړلې تندې
هلته خاموشه خاموشي ده دلته شور وربږي

۱۳۸۲ چنګابښ ۲۸
اريوب ځائي خير مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شیدو جام

د ګلو بدرګه چې ګام په ګام ورسره ځي
په مست او سندریز تګ مې ګلفام ورسره ځي

د مخ له ايينو نه يې ګېډۍ جلوې زنګېږي؟
که پيخه کې د سپينو شيدو جام ورسره ځي

دا دوې کوترې دي د نامعلوم جادوګر لونه
د سرو پاپيو تلو کې روغ بام ورسره ځي

!دستا د کلي خوا ته چې هر څوک درځي جانانه
زمونږ له خولونه خامخا سلام ورسره ځي

!اشنا چې د نازونو جامې واغوندي جلانه
دنګ غرونه د ښايست په احترام ورسره ځي

۱۳۸۱لړم ۱۲
اريوب ځائي خېرمېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خدای دې راپېښ کړه

تا پسې نظر ګرځوم تا پسې زړه ګرځوم
ستا په ځوانۍ پسې هروخت دوه تنه غله ګرځوم

راټولومه د جانان د راتلو ننبه ترې نه
د فا ل نیلی د هرسړي پر اووم پله ګرځوم.

بې کاره نه یمه دا هم لوی مصروفیت ګڼمه
ستا په وړو وړو خبرو پسې خوله ګرځوم

هسې للو شم د سحر د بانګ نه لږ څه وړاندې
د سحر لمونځ ګرانه ! همیش په لمر خاته ګرځوم

مینه به زر په تا ناتوان جلان تاوان کړي اشنا
خدای دې راپېښ کړه تاته لاس کې تیار مړه ګرځوم

۱۳۸۲لړم۲۰
افغان ادبي بهیر کابل تیمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زېړې

په اېينو د نرګس ستا د انځور رنګ را دروومي
خود به د وخت د ښايستونو تر منځ جنګ را دروومي

بلا دې وا خلم زېړې وا خله د فطرت ښاپيرۍ
ستا د سندرو په څونډي بوی د لونګ را دروومي

زاهد دې وپيي تسبې د حورو شنو خالونه
مونږ ته دا بس دي چې په لوړ غږ د جام کړنګ را دروومي

هر ماز ديګر زما د زړه د وينو تږی جانان
د خپل قلنګ په غوښتو بې کچې بد رنګ را دروومي

په سرو ګوتکيو د جلان د زړه ټوټې ټولې کړه
د روح لاسو ته يې د مرګ د زنځير شرنګ را دروومي

۱۳۸۰ دوری ۱۸
اریوب څاڅي خير مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د روح کنډول

په تورو څڼو مست سپرلی څومره عجب غرېږي
لکه د مینې پر کېسه د شاعر لب غرېږي

خود به له چین نه ښا پېرۍ را لېږي ګل د خندا
د سندریز تار په زړه وړونکي تر نګ مطلب غرېږي

د مازدیګر په زېړ جبین به ګل، ګل وکړل شي
دا ځوان ګودر به اوس د نجونو په مذهب غرېږي

راځئ په مینه، مینه واورو نوراني خبرې
زما د جانان په طلایي تندي کې رب غرېږي

خدایه ! سرۀ ژبه د لمبو یې پرې کوه په توره
زمونږ فردوس ته جهنم ډېر په غضب غرېږي

ګستاخ بانه د جلان روح کنډول کې مست شور کوي
لکه د پېغلو په لاسو د بنګړو ژرب غرېږي

۱۳۷۹ سلواغه د اختر ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوې همزولې پيغلې

واه واه د خندا په توره وار کوي زړه وربېي
دا خو عجيبه د هنر کار کوي زړه وربېي

يا د اداګانو جادو ګرې جامې واغوندي
بيا خو خامخا سينې ته لار کوي زړه وربېي

ګرانه ستا اوبلن نظر چې ستا پر اننګو ساز شي
لکه تو د ګبين له خوږو تار کوي زړه وربېي

دوې همزولې پيغلې په يوه رنګ د يوې کوڅې
بس د شيبو سيورې ته سينګار کوي زړه وربېي

ستا ساده جانان ساده اجل جلانه پام دې وي
کله کله يونيم خوی هوښيار کوي زړه وربېي

۱۳۸۳ وری ۱۴
افغان ادبي بهير تيمني کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غمازکره سوله

غوارم تخیل ته مې د شوخو نازو رنګ راوړم
اور شه چې غزل ته مې نوښت راوړم اهنګ راوړم

څه ساده انسان یم کشمالیو پسې لاړ شمه
پوه نه شم چې بیرته راځم غیږې غیږې بنګ راوړم

بیا یوې تور پړوني نغمه ګرچم را خاموش کړلو
ځم د لمر مطرب نه د جلوو د رباب ترنګ راوړم

ستا د هنرمند نظر وړوکی شان شاګرد خویم
ځکه د مین احساس ورغوي باندې چنګ راوړم

ای ! وچې موسکا کې مې د ویر لکیرې ولوله
اوس هم انځورونه د دردونو د کړنګ راوړم

اوس چې غماز ګرې سولې زړونه را تړلي دي
خدایه د څلورو ګلو منځ ته څنګه جنګ راوړم ؟

غشی د اوبو چې مې د زړه پر غرمه وګرځي
ماتې ماتې اوښکې د نظر د جام په ځنګ راوړم

سوال کوه جلانه چې د مینې پسرلی شمه
تا ته به دعا هم د سندرو له ملنګ راوړم

۱۳۸۳ وری ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوک دی ؟

د ګل مخ باندې اوده ښکلوکې څوک دی؟
د ښایست په لباس پټ پستوکی څوک دی؟

شغلې هم په سپینو شونډو ترینه می ځښي
دا د مستو میو مست ډنډوکی څوک دی؟

دا د غوڅ زړګي پرهار باندې چې پښې ږدي
د غرور په لار روان مستو کی څوک دی؟

روح مې پروت د عزرائیل جانان په درکې
خلک وایي دا ماشوم وړوکی څوک دی؟

د مخ پړک یې د ښېترو څښې ښکل کړې
د کنډو پر سر ولاړ سپینوکې څوک دی؟

واه نظر له مې خورا شیرین شیرین شو
ای جلانه ! د ګبین کنډوکې څوک دی؟

۱۳۷۹ مرغومی ۲۲
اریوب ځائي خېرمېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شومې شپې

مونږه تږي کړې کړې دي لومې لومې شپې دي
د درد لمبې زېږوي ښې را ته مالومې شپې دي

که تورې تورې ښېې يې هر ځومره په شونډو ښکل کړو
رنګ د جانان د څنو نه راوړي څه شومې شپې دي

وايي دوه ستوري سره غېږ په غېږ شي سوال قبلېږي
ای تور پړوني بوډۍ ! وايه هغه کومې شپې دي؟

هغوی خو تل زمونږه قتل ته لمنه وهي
هغوی چې تاسو ته پر ښېنو رغږي مظلومې شپې دي

زمانو ډيرې د رڼا پيڅې په خولو کې ورکړې
خو ښېغلې نه شوې لا همغسې ما شومې شپې دي

تور ومه سپين يې کړم جلانه چې يې ولمانځلم
د يو چا تورې تورې سترګې هم معصومې شپې دي

۱۳۸۳کب ۲۹
افغان ادبي بهير تيمني کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله وايه

په خوله تپه او مهين لاس چې په چمبه لګوې
دا خو ګلاب زما د ژوند په ګريوانه لګوې

!پی مخي مخ کې د غصې کربنې ساده جانانه
څه تور خاپونه دجنت په ديواله لګوې

منم چې ما به د جانان په نامه نه بولې ته
بيا د نظر منګولې ولې مې په زړه لګوې ؟

د ترنم دا ژوبله ژبه مې راوړې څکه
وايي چې ته پرې د موسکا خوارۀ ډېر بنه لګوې

ته که هر څومره جامې واغوندې د ورکو شيبو
لکه هنر مې داحساس په شونډو خوله لګوې

وخت ډېر سپېره دی درنه ناز د مينې ونه لوټي
بسم الله وايه چې بنو سره بانه لګوې

هله به بنکل کړې د جلان تندی دخيال په شونډو
چې مړه ډېوه د اسوېليو پر لمبه لګوې

۱۳۸۲کب۳۰
رشاد ادبې کره کتنه تيمنې کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درونډ سیوری

وویشت د مرګ کانړو له کاله مو لوی ور ولوېدو
درونډ سیوری د پلار مې هم خالقه له سر ولوېدو

اوس د ژوند اغزنه کږلېچنه لار لا ګرانه شوه
یورېم د تیارو ګرداب له لاسه مې لمر ولوېدو

اوښکو مې د زغم د دېواله ډډه ورسته کړله
ړوند شومه له سترګو مې روڼ اندی نظر ولوېدو

امر دی د خدای چې مور او پلار یې رانه واخیستل
زور راکوي دا په سترې غږ مې خنجر ولوېدو

داسې جلان پرمخې نسکور د درد شپېږو کړو
ته وا باراني طوفان کې خرپ شو نښتر ولوېدو

۱۳۸۵ کب ۱۰
اریوب ځائي خبر مېنه
دګران پلار د مړیني پر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګېډۍ ګېډۍ لمبې

يو څو زانې د زانو له قطاره ووتې
ګېډۍ ګېډۍ لمبې مې له پرهاره ووتې

!د بل کهکشان غېږ کې چې جلوه جلوه شوې ستوريه
ګېلې مې له ستومان ارمان مداره ووتې

په غشو ګوتې پرې شوې د ښايست د مطربانو
نغمې د تورو څپو له هر تاره ووتې

سيالۍ کې د رندانو مې جنون ونه ګټلو
ژوندۍ ژوندۍ توبې مې له خماره ووتې

پيمخې زمانې چې غنم رنګې شيبې راوړې
ما ويل که د بنګ څپې له کوکناره ووتې

که ژرنده دې د پلارونو هم په وار د هر چا واروي
جلانه ليونيه ! ته له واره ووتې

۱۳۸۱ غبرګولی ۲۱
اريوب ځائې خبر مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له نازه ډک فلم

اوس مې د زړه دهوسۍ مرګ ته په خيال شک تېرېږي
ستا د نظر بوخ غوږۍ پړانګ چې د اسې څک تېرېږي

له نازه ډک فلم دې وينم د ليمو په پردو
ستا هر بانه د اداکار پر مټ ټوپک تېرېږي

خدايزده د کومې رڼا لپو کې ښېرې د تيارو ؟
لمر مو د کلي په سر تور واوړي چابک تېرېږي

د مستانه زړه لېونۍ خندا په کټ کټ وکړي
سرو پرهارونو کې د سپينو تورو پړک تېرېږي

ديدن مې بار کړو د اميد د زلمي ولوباندې
خالقه ! خير د رقيبانو په پاټک تېرېږي

که ګستاخي نه وي يارانو د جلان پر شونډو
قافيه يې شوخه خو رديف پرې ډېر نازک تېرېږي

١٣٨١ تله٢
اريوب ځاځي خېر مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوستکی تور

مونږ زړونه مینه ناک لرو مونږ ګورو تصویرونه
مونږ ګورو په ګلپاڼو کې د ستورو تصویرونه

مودې وشوې لیمو نه مو پوستکی تور ښویدلی
ماښامه ! راوړه لږ د څڼو تورو تصویرونه

را ځه جانانه ! ورک ورک شو نظر کې دیو بل
په نورو کې چې رنګ رنګ شي د نورو تصویرونه

د حال په ژبه و پوښته ماضي ده پرې خبره
دې چم کې ولې شوي د سرزورو تصویرونه

د خیال پراېینو د شوخ زمان له تسه اوس هم
جلانه ! ګرځوو د اور د سیورو تصویرونه

۱۳۸۲ کب ۲۱
رشاد کره کتنه تایمني کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مهربانه شپه

سترګې په تکه سره غوسه مينځې لمبه راکوي
په ډبرينو جامو پټه ده خوله نه راکوي

د کال په شپو کې يوه شپه تر پخې شپې وروم
دا مهربانه شپه پوره د کال خواږه راکوي

جانان وعدې کوي راتلو ته يې تاله پرته ده
غشي د ځان سره ساتي تشه ليندره راکوي

د ژوند په پل کې به يې وکرم ځواني په نذر
خو که جانان د ناز په لپو کې اوبه راکوي

ورباندې ګران يم او په زړه کې يې ځای هم لرمه
خو بيا پرې دومره باور نلرم چې زړه راکوي

يو سور کافر به هم جلانه داسې کارونکړي
لکه دا غرونه غرونه درد چې پښتانه راکوي

۱۳۸۴ وری ۱۱
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سپېڅلتوب خاطر

د درد په سرو وزرو ګر ځمه تکو رنلرم
لکه یتیمه مرغۍ مو رنلرم مو رنلرم

منم چې دښت یمه د غره په شانې لوړ نه یمه
خو خپل ضمیر ته مې د وخت د خولې پېغور نلرم

ستا د حیا د سپېڅلتوب خاطر، خاطر کې لرم
دا چې په سپینو تورو ټوک ټوک یمه شور نلرم

ترکیب مې خپل او خیال مې خپل، غرېړو ټول په پښتو
د چا پور نه منم او زه هم په چا پور نلرم

یم بې سندرو له مودو د تخیل نغري کې
جانانه ستا د ګل غوټیو سترګو اور نلرم

ها پخوانی نه یم چې غربه مې په غېږه کې ورو
جلانه اوس خو د یوې څپېړې زور نلرم

۱۳۸۴لیندی ۲۹
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

دا ,, سایل ،، څوک دی؟ په زړه کې راته ناست دی
پښتونخوا غونډې په خوله کې راته ناست دی

د نغمو پلار مستانه ,, کاروان ،، یې بولې
د سندرو شنه ځنګله کې راته ناست دی

,, پسرلی ،، د تفکر فلسفې وایې
د هیندارو راڼه غره کې راته ناست دی

دا دنیا مو د پښتو بې زوره مه شه
,, درویش ،، وینې د ننګ شمله کې راته ناست دی

اخ ,, اکبر ،، مې دزرینې مینې برج دی
د نوښت په لمر خاته کې کې راته ناست دی

انځور ګر د زمانو ,, لیوال ،، مې خوښ دی
د شریعت په ښې متړه کې راته ناست دی

دښایست د سمندر غاړې جلان شوم
یو رنګ بنګ د ناز څپه کې راته ناست دی

۱۳۸۴ زمری ۲۵
افغان ادبي بهیر کابل تایمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتنو حجرې

راړنګه شه پخې شپې د دیدار له پاره وي
ساړه ساړه وختونه خو د وار له پاره وي

د زړونو راکړه ورکړه ده په مینه کې اړینه
په ژوند کې خو سړی پیدا د کار لپاره وي

د غم کانې راوله چې مې ژوند پرې ښایسته وي
جانانه نغرې خو د انګار له پاره وي

په تاسې کې خو ستر خلک وي ستړي سرمایې
په مونږ کې خو د سر سړي د دار له پاره وي

د چپ ناستي دې ځار شم څه خو ووایه جانانه
حجرې د پښتنو خو د بنډار له پاره وي

په شوق یې د راتللو اوږده لار څاره جلانه
مینې سترګې تل د انتظار له پاره وي

۱۳۸۵ سلواغه ۳
شمشاد تلویزیون کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غوټه زړکه

ملګرو ځکه موځوانۍ د مستۍ اور نه کوي
لارې ګونګۍ دي قدمونه پکې شور نه کوي

د زمانو له ګرداېو مې رايستلی شي خو
جانان له دوو ګوتو نيولی يمه زور نه کوي

زه وم چې زړه مې د غرور بيرغ ته نذر کړ لو
ګنې وښيار خلک په جګو غرو کې کور نه کوي

زړګيه ! ژويه د احساس پر شونډو سرې سکروټې
دې چم ګاونډ کې څوک د سپيني خولګۍ پور نه کوي

زما رباب د ستا خاورين منګی د ګوتو لاندې
د احساساتو ژباړې اوس په ټنګ ټکور نه کوي

جلانه ! ځکه لکه غوټه زړکه تول نه کوم
ست د خوږې ميني د مړاوو سترګو تور نه کوي

۱۳۸۵ چنګاښ ۲۸
کابل نوې کارته

تول. دزړکې په پښو خوځښت چې ډېره چټکه روانه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مات غمی

یاد بېږي مې د بر زیات د وړانګې پل غوندې جانان
را پېښ کړي خدایه ! نن د ګل غزل غوندې جانان

د زړه د مات غمي شوندې مې تل لولي ملګرو
د سترې لارويي د ورک منزل غوندې جانان

د شپې په تور بخملو اننګو کې راته خاندي
د ګورو غرو په منځ کې د ځنګل غوندې جانان

چل بازي زمانې څه په خواږه کشمکش یوړ
د زړه له افغانستان نه د کابل غوندې جانان

د ښار د ښایستونو میناري پسې نسکورې
جلانه جنتي ژوند دی شډل غوندې جانان

۱۳۸۴ غبرګولې ۲

## رڼا میندي

زموږ ماشوم غږ په میړانه هر ډګر وړی دی
هر چا له دي چمه په هر مهال مات سر وړی دی

زموږ د کلی له اسمانه هر چا کړې ولجه
چاترېنه لپو کې سپوږمۍ وړې چا لمر وړی دی

خدای خو لرو یتیمې اوښکې به رڼا میندې شي
خبر دی که تورو ماښامونو مو سحر وړی دی
اوس را ته وکړي نیم وزري ګلان دلته ځکه
یو ستمګر باد د سپرلي نه پوست وزر وړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لمبو ژبه

پنجې لګوي اوس په کشماليو انګارونه
راوړي دي د وخت ځېرو سيليو انګارونه

اوس ژبې د لمبو شولې جنډې پر قبرو رېپي
شيندي خاورو کې ننه په کوپړيو انګارونه

غوټۍ د تودو وينو د پرهار خوله کې وريتېږي
کفن شول جنازو له د ژړکيو انګارونه

د مرې زمانې مړو زلمو پاڅون او وحدت وکړ ئ
ځېرې ګوتې تپې پر ملاليو انګارونه

سپرغۍ چې د جلوو د ښو له تلو را تويږي
اغوستي دي د لمر سپينو کوديو انګارونه

پر کلک زنځير يې وتړل نيم ژاوندي سحرونه
بې کچې زورور شول د تروږميو انګارونه

خبر يې؟ د ګلپاڼو موسکا وينې غورځوي
ژوولي په پستو شونډو سپرليو انګارونه

پوښتې مو نو نور څله چې ژوند څه دی حالت څه دی
جانانه موږ للو کړل په زړګيو انګارونه

۱۳۸۰ ليندۍ ۲۹
د ځاځي بابا ادبي غونډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په ګستاخ ګلبڼ د سپرليو تماشې

مونږ د طبعيت پرتندي تل د وخت تندرو نه خورو
څه وکړو د شوخ نظر په جام کې سره اورونه خورو

سر شلوو ګرېوان شلوو څپېړو باندې مخ وهو
هم د ليونو په څېر تاوکړي زنځيرونه خورو

مونږ ستا د ګستاخ ګلبڼ سپرليو تماشې کوو
نه له تا ښايست ژويو او نه دې ګلکځونه خورو

هغه د توبو جنازې لاړې د ژوند متېونه
اوس خوبه د لپو په کنډول کې شرابونه خورو

مونږ سرېخواره نه يو مطربه نغمې سازي کړه
موږه په سازونو د روحونو تصويرونه خورو

وير، د وير کيسې دي د رڼو اوښکو په ژبو مو
مه پوښته مونږ مه پوښته بس پرېږده چې خپل زړونه خورو

اوسه مطمئن زمونږ هر لفظ د کاڼي کرښه ده
موږه ښکلي نه يو چې وعدې خور قسمونه خورو

وړاندې چې د عشق دګر ته شو نو بيا دي دوې کيسې
يا جانان ګټو يا به جلانه پرې سرونه خورو

۱۳۸۰ دلوه ۲
اريوب ځائي خير مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ستورو کتوری

شاعر زړګي ته مې خمار د تودې مينې ورکړه
چې مرورې زمانې درته سپرلي راوړي

د شپو پر بام مې جانان ايښي ګل بخملې پاپې
د سپينو ستورو کتوري نه به غمي راوړي

که نه يې زړه کې مې يې ګرانه پښتنو کې رواج
مړي قبرو ته ورې واپس ترېنه پتکي راوړي

ته چې پروته شوې په متو مې خاپوړې کوې
زما شړې به هم د سرو ګلو ځونډې راوړي

د بنګاوو د ياغيستان ډېوې به لا مستې شي
که د خيرنو رڼاګانو رنګ زړګي راوړي

اه د ننګ جلان دې په چاکو پرې شوې پانه بوله
د بېوسې سيلۍ يې يو خوا بل خوا ورې راوړي

۱۳۸۴ مرغومی ۱۳
افغان ادبي بهير کابل تيمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښنو ښکالو

څه شوه خالقه څه شوه څه شوه رنګه ښکه وړانګه
نن مې په زړه باندې بیا اوري هغه دنګه وړانګه

د پښنو ښکالو ته یې تر سپین سحره ویښ اوسیدم
بېګاه ونه ګرځیده ستورو باندې چنګه وړانګه

ښایي د لمر له پا چاهۍ یې ورته زېرې راوړ
بیا د کابل له اوږو تاو شوله قشنګه وړانګه

داچې د څښو رنګ ټومبمه درښا پر تندي
ملګرو ډېره مې خوښېږي غنم رنګه وړانګه

اوس د ځوانۍ ولولې پیو د بیلتون په تارو
دزړو د بام څخه مو والوته خوشرنګه واړنګه

دابه تر څو د اشارو په ژبه رمز غږوي
خالقه ! تاکړه خبر بوله دغه ګونګه وړانګه

د غرور څلي څه نظر پرې د کرم ونکړو
ګنې څو ځله یې له پښنو تاو شوه ملنګه وړانګه

۱۳۸۰ کب ۱۲
اریوب ځاځي خیر مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ګله ! تاوده ساړه وختونه تا ته یاد دي کنه ؟
د فطرتونو اتڼونه تا ته یاد دي کنه ؟

چې د تاوکړو جذبو غېږ کې به لمبه لمبه شو
ها ! غوړېدلي ګلکڅونه تا ته یاد دي کنه ؟

د عشق ملکو به چې راوړي جنت ګرې شیبې
مست محفلونه ربابونه تا ته یاد دي کنه ؟

د روح ګلدان کې به للو شو پیښې پیښې خمار
په توبو را به غله جامونه تا ته یاد دي کنه ؟

مچکو خرپ به له ښایست نه ترنم جوړه وو
د خوږو مینو تصویرونه تا ته یاد دي کنه ؟

د لمر شغلو به د کنډو پر ټټر و تپلو
د شنه نښتر کاږه لاسونه تا ته یاد دي کنه ؟

زېړ مازدیګر به د چینې پرمخ شو شاولې واولې
شول په نخا به چنارونه تا ته یاد دي کنه ؟

نظر به هم نظر کړلیچ باندې تیندک خوړلو
د هر پکې مات شول تنکي زړونه تا ته یاد دي کنه ؟

۱۳۸۰ زمري ۱۹
خبر مېنه
د خلې د غونډۍ په سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ګلپاڼو پاڼې

رنګ د محبت په شیبو پروت ښه دی
څه سرور په وینښو جذبو پروت ښه دی

للمې چې د زړونو کړي خړوب خړوب
مخ دې د ښایسته پر اوبو پروت ښه دی

غېږ کې د شوګیر اوسم په سرو سترګو
خوب مې د موسکا په تمبو پروت ښه دی

ستا پر سر پړونـــــــــى د ګلـــپاڼو ښه
زما پر سر څادر د لمبـــو پروت ښه دی

را د نرګســــــــي میو پیـــالې ساقي
پرېږده زاهـد جان په توبو پروت ښه دی

ځوږ ځوږ چې جلانه شي خاموش ماحول
غږ، غږ د تپو په چمبو پروت ښــــه دی

۱۳۸۱ وری ۱۸
اریوب څاڅي خیرمېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ارمان تنده

خاورې ايرې شوم د الفت له ژونده پاتې شومه
چې بې جانانه شومه څه بې خونده پاتې شومه

د ديدنونو پر اوبو مې شونډې نه شوې لمدې
د ارمان تنده ومه تنده تنده پاتې شومه

سنګين پولاد وم په پلکونو به هم نه ماتېدم
يو ځل چې مات شوم نو بيا بې پيونده پاتې شومه

نن يې لمن ته توېدم زمانې پرې نه ښودم
بې اسرې اوښکه وم ليمو کې بنده پاتې شومه

را نه خوښې د ژوند يو دوو وښيارو سترګو يوړه
زه ليونی جلان د غم پر دنده پاتې شو مه

## درمات شوی يم

کله چې زه د عشق په ذات شوی يم
له هغې ورځې نه ميرات شوی يم

د هر ارمان له جنازې نه چاپېر
هر وختې وښ په څېر د سقات شوی يم

اوس دې د سترګو سيپارو کې اوسم
د ليونۍ مينې ايات شوی يم

راشه چې غبرګ زړونه کړو غاړه غړۍ
ګرانې ! را ماته شه درمات شوی يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکړو څڼو پستې پښې

مين احساس شوم د نغمو پښو ته په رمز غږېږم
ته وا د ژوند د ګلګڅو په پښو ته په رمز غږېږم

خود به غرور خولې لګوي ستا د ښايست پر شونډو
ستا د کړو څڼو پستو پښو ته په رمز غږېږم

نازک خيال راوستم په خوند خوند د ساحل غيږې ته
لکه شنه څانګه د څپو پښو ته په رمز غږېږم

ګونګه چمبه وم د پيغلوټو په لاس ورغلمه
خود به بې دريغه د ټپو په پښو ته رمز غږېږم

ترينه مانا د ستا د نوم د پاکو تورو پوښتم
لکه نظر د ايينو پښو ته په رمز غږېږم

جلانه وخت چې په ګلکرو شيبو وتپلم
پښتون غزل شوم د پښتو پښو ته رمز غږېږم

۱۳۸۰ تله ۱۲
اريوب ځاځي خير مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړانګين مړوند

پر دښته د امید مو کوږ کړنګ را ولویدو
دامن په پسته لمن کې جنګ راولویدو

د خولې د هر پوکي نه یې خنجر د اجل ځغلي
د کور انګړ ته دا رنګې بدرنګ را ولویدو

د لمر زریني پیغلې له وړانګین مړوند نه اوس اوس
په ځلي د ایرو یو بنګړی شرنګ را ولویدو

دا چا رانه پستو کې غوندې تور په ولجه یو ورو ؟
په لپو د لیمو مې سپینچک رنګ را ولویدو

ګلدان ته مې د زړه د سیلۍ غېږې نه یو بوټی
جلانه کشمالی دې او که بنګ راولویدو ؟

۱۳۸۰ د لړم ۲۳
اریوب ځائې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اریوب غوندې جانانه

د پخې شپې خوارېږه خوب غوندې جانانه
وخ در ځار د مینتوب غوندې جانانه

چا نوي مې خيال په تا پسې تورکانې
د شرې د ساده توب غوندې جانانه

د لمبه لمبه زړګي دې را نه غوارې
د اوبو د مهینتوب غوندې جانانه

د عقلونو فلسفې در نه قربان شه
د ځوانۍ د لیونتوب غوندې جانانه

جلان مرمه پسرلې ته مې زړه کیږي
غیږه را کړه د آریوب غوندې جانانه

۱۳۸۳ دلو ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هله پيغله کې مې نيسه

څنې لويشه اوبه راکړه د قاتلې تندې شور شوم
ته د شنو د ښتو سپرلی شوې زه د وچو غنو اور شوم

شوخ نظر دې ګل پلوې د وريتې مينې نشان کړم
ښايي اوس پاک مسلمان شوم ښايي رګ رګ کې دې خورشوم

!هله پيغله کې مې نيسه چې تويېږمه جانانه
د شلېدلې ايينې غوندې د پرې وړانګو انځور شوم

اوس مې وړي پرکرلېچونو خدايزده کوم ګړنګ مې وخوري؟
اوس د باد پر اوږو سپور شوم اوس د ماتې پاڼې ورور شوم

لکه دنګ سپين غرياغي وم خو بس ستا د ښايست پېښو ته
لکه ځلې د مړو خاورو دا څه چل و؟ درنسکور شوم

اوس دې ګرد پاکوم ګرانه له ګلچين ګلچين نظر نه
د ليمو نه لږ څه پاسه د ښو لاندې دې تور شوم

ځان کرمه ځان ربمه عجيبه غوندې جلان يم
اوس د خپلو جذبو فصل اوس د خپلو جذبو لور شوم

۱۳۸۳ وږی ۲۸
اريوب ځاځي خير مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تورې کوتې

ځان ساته ګل ځانګې د تور وخت د اور لمبه دې خوري
ګرځي هره لار باندې د وږي نظر غله دې خوري

لا د تورو وږمیو تورې کوتې دلته ویښې دي
ورو راځه سحره هسې نه چې رانه وه دې خوري

پام دې دی مغروره خپل غرور دې زیږوي ښېرې
تا چې خوري نوخپلې شوخې سترګې شوخ بانه دې خوري

ستا څه دي رقیبه ! یار زما او زه د یار یمه
مینه خو زمونږ ده ضرورت څه دی چې زړه دې خوري

ای ! د تورې دښتې پاچا تور لیوان دې خوشې کړل
ستا انصاف هم دا دی چې رمې دې خوري شپانه دې خوري

ټول کړه د جلان خیاله د ښکلې جزیرې پیڅې
شور کوي د تور سمندر ګې ځېږه څپه دې خوري

۱۳۸۰لړم۱۴
اریوب ځاځي خیرمېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غبرګ مې ورک دې

غبرګ مې ورک دې مورې مورې سترې غبرګ په چا وکړم؟
اخ په خدای نیمګړی شوم نیمګړی غبرګ په چا وکړم؟

ای ادکې! ووایه بچیه راته ووایه
اوښکې اوښکې زړه مې دې راوړی غبرګ په چا وکړم؟

خوله د ښیرازۍ مې په ډبرو د وخت ماته شوه
مینه مینه ژوند مې اوبو وړی غبرګ په چا وکړم؟

ژوند مې له یاغی ځوانی نه ځلی د ایرو جوړ کړو
ډیر یم طبع خړی طبع خړی غبرګ په چا وکړم؟

بیا یې مې جلانه! اندیښنې د ژړا غرونو ته
ستونی کې مې پروت د سلګو پړی غبرګ په چا وکړم؟

۱۳۸۳
اریوب ځاځي خیر مېنه
د خورې مورجانې د مړینې په وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په دې زه هم نه پوهېږم ؟

څه د سرو سلګیو وخت دی چې ترکېږمه وریتېږم
د لوګي سکنی وروز شوم د لمبو په سر ګډېږم

ته مې هم په صبرلمانځې زه هم صبر صبر غواړم
دا چې نه درنه صبرېږم په دې زه هم نه پوهېږم ؟

په شیبه شیبه قاتل یې پېژنم دې پېژنې ځان
ته مې وژنې زه ځان وژنم خو دا ولې نه مړکېږم؟

دا مې لویه سرمایه ده د دردونو د ژوندون
د خپل مات ارمان په پښو کې اوده کېږم بیدارېږم

دا بایللی بخت جلانه د مالګین صابونه لار شوه
پرې غورځېږمه پاڅېږم او چې پاڅېږم غورځېږم

۱۳۸۳ کب ۱۱
کابل ازادی رېډیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

درد مې د فن جامې اغوستې غزل خوان دی
اوس مې زړه د یوه حسن ترجمان دی

تول بدن یې دستم د کفر کور شو
یو لیمو کې یې نظر ناست مسلمان دی

په خوږو پستو کیسو کې زمونږ مرګ دی
اخ د سرو غشو باران زمونږ درمان دی

دیو چا مرګ کلی دارنګې خاموش کړ
ته به وایې چې یو چولی بیابان دی

لټوم دې د ګوتکیو په کوتو کې
ستا لاسو کې پرون ورک را نه ګریوان دی

اوسوو یې د زړه غټ منځ کې جلانه
وا جانان پر موږه ګران لکه ایمان دی

۱۳۸۳ سرطان ۲۸
کابل کلاچه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ځو مره په ناز دزړو پر بام ځې چې راونه غورځې
جينۍ ! کمکۍ يې په سترګام ځې چې راونه غورځې

مخ په مړوند کله پټېږي په دې بنه پوهېږم
ته خپل مين ته په سلام ځې چې راونه غورځې

دځوانۍ نوی اور دې زړه دلمس په شګوولي
که داوموشيدوترجام ځې چې راونه غورځې

نن دزيارت نغری بيا غواړي دنذر ډوډۍ
ته دجمعې په شپه مدام ځې چې راونه غورځې

ها ليونی جلان په مينې پسې ځان مړکوي
هلته به ته ډېره پر بام ځې چې راونه غورځې

۱۳۸۵ ليندی ۲۱
شمشاد تلويزيون کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پښتو

ټول بدن د غوښې خو د زړه غوښه خو غوښه ده
ژبې خو دي ډېرې خو پښتو مې ډېره خوښه ده

دې ته سور غرور هم ګونډه ماتی شي سجدې کوي
دا د پسرلي شړی د لمر پر اوږو خښه ده

وخت څومره ساده دی چې ټپې مو په رسۍ تړي
چا پر شګو رېګو د دریاب نیولې مخه ده

ماترې د زړګي جنت جنت کابل جوغدي راوړو
دا بره کوڅه خو راوتلې له دوزخه ده

هوډ دې د قاتلې تندې مات شو چې حلال دې کړم
څنګه ده جانانه اوس دې اور اور سینه یخه ده ؟

نن خو یې د څڼو په پستو ګوتو کې ماته کړه
ستا جلان د ستا لمن کې پروت لکه شنه پخه ده

۱۳۸۴

کندهار د هوتکلیانو د غورځنګ ۳۰۰ مه کلیزه

پخه ( پانه )
په قافیه کې د (ښ) او (خ) د نه مراعتولو له کبله بخښنه غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زريني شڼكې

لکه انار چې ناوې وار کړي په دیوال مات شي
داسې مې ستا د ښو سیوري لاندې خیال مات شي

د سپیدو ستوري د ابجدو په زور خولې په خولې کړم
چې ستا د نوم تر کلي راشم رانه فال مات شي

پام کوه ډېرډېر د حیا پر سپېڅلتوب چېرې نه
پېغلې هینداري نه تصویر ستا دجمال مات شي

لکه د غرو پر سر چې باد کې باراني څپې وي
کله دې داسې په درنو څڼو کې شال مات شي

بیا به د اوو چینو زرینې شڼکې څوک پخې کړي؟
که د یار سترګو نه د کوډو تور بنګال مات شي

جلان دې دارنګې پیکه کړم پښتانه ضمیر ته
لکه نقاد نه چې منطقو کې مثال مات شي

۱۳۸۵ وری ۱۳
افغان ادبي بهیر کابل تیمنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انځور ریز ورغوي

ای ! راته وګوره په سترګو کې دې ستوري ژباړم
د لوی ښایست د خوږې ژبې نه څو توري ژباړم

د پسرلي خوږې سیلۍ ترې لوپټه جګه کړه
د یار د څنو ماښامیز ماښامیز سیوري ژباړم

لته څلور جهانه زور دلیونۍ مینې دی
هغه دوه کوره د غونډۍ پر سر چې ګوري ژباړم

د کایناتو د ښکال وو انځوریز ورغوي
د طبیعت په ایینو کې مې چې ښوري ژباړم

د درد پر سرو پاڼو چې کاږمه جالنه کرښې
ارماني ژوند په احساساتو له هر لوري ژباړم

۱۳۸۴ سلواغه ۲۸
کابل افغان ادبي بهیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

لمر به له کریوان نیسم د ښنو پوړۍ به غر کړمه
ګورې به چې څنګه لاس په لوړو باندې بر کړمه

هله دې زه ومرم چې ټیکری مې د خوږې پښتو
بس چې د ستورو زمانو ته ورپسر کړمه

وخته ! د هنر په تماشو کې به مې وستایې
یار چې ګوړه ګوړه کړم او زه ځان مرور کړمه

هله به یې زړه ته زور د میني لاره وموميي
زیړ زیړ اننګي چې یې پر شونډو بختورکړه

و جلانه !ډیرې جنکۍ به لیونۍ کړمه
زه چې شړې واغوندم اتڼ ته متې ور کړمه

۱۳۸۵ چنګابن ۲۵
شمشاد تیلویزیون کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

له کاڼي جوړه کړي هینداره پوخ کمال هم لري
د غرو شډل بډل شاعر مې داسې خیال هم لري

بلا دې واخلمه اشنا د زمانو قاتلان
که سر کې کبر ګرځوي پښو کې زوال هم لري

د جمعې لمونځ ځنګه په دې کلي کې نه دی روا ؟
ملا نه واخله تر دې پورې چې کلال هم لري

د چاپه څیرو ګرېوانو پسې په کټ کټ خندل
تا ته به ډېر خوند درکوي مګر وبال هم لري

دا ځل مې داسې د سندور پېغله ومونده له
چې د ښایست تر څنګ پر څښو زرین شال هم لري

د زړه درې نه مې تیارې نه پاکوي جالانه
ګنې په ښې لاس کې د وړانګو سپین د سمال هم لري

۱۳۸۲ سلواغه ۲۴
کابل ګلاچه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بغاوت

مینه زرینه وړانګه بولم دفطرت دکاله
زه په ښکالمین مدام ښکالته ژوند تېروم
که څوک مې تورداغ لګوي پرلمن باک یې نشته
دانسانیت دفلسفې رڼاته ژوند تېروم

!نورمې جذبې دغالمۍ وختونه نه قبلوي
نوردبې ځایه حوصلولړۍ شلوم زمانې
دخاموشۍ دپردوشاته اوښکې نه تویوم
نورپه خندا خندا ضمیرپه چاړو وړم زمانې

دبې ګناه ملالوسترګو پسرلیز رنګونه
نورد دردونو په خیرنو پاڼو نه لیکمه
دچادمینې ترشاه پاکې مینه ناکې هیلې
دتوروکاڼو قاتلیز محیط ته نه ژباړمه

که لمر راخیژي له بل لوري بس راودې خیژي
نوردهیندارو پیروي کاڼوته نه منمه
شپې دې داخپلې زورورې سترګې ښې برندې کړي
خوتورې پېښې یې دسحر پرپاڼونه منمه

څوک چې معصومې خنداګانې په ژړاړوي
زه یې دښمن دصمیمیت اومحبت ګڼمه
دوی د ژوندون دنزاکت په مانا نه پوهېږي
بس الرویان یې دظلمت اودوحشت ګڼمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د حیا او شرم نوم الندې یې پټ تېروي
د دې تړولنې بې مانې منفي رازونه سپړم
د زور او واک په تور قالب کې یې چې څه بند کړي
نور یې نړی ته د ا جاهل جاهل کارونه سپړم

د اچې په منځ د عاطفو کې لکه اور ولاړ دی
توکل په خدای د خدای په زور د غرور غراړوم
نور د پښتو جام کې اوبه د رواجونو نه څښم
نور د سپېڅلي بغاوت شراب په سراړوم

۱۳۸۵ لړم ۱۲
شمشاد تلویزیون کابل

## په اوبو کې رانجه

ته خو شاعره د طبعیت شاعره
ته له خپل ځانه ناخبره ولې؟
لکه رنړه هینداره
د مخ پر پاڼو دې سندرې قدرتي کښلې
لکه لونګ وې په نکریزو لانده
ای ! د طبعیت شاعرې !
د یوې خوږې شاعرۍ بوی دې له ځوانۍ الوزي
ته د ښایست لباس کې
ځانګړی سبک لرې
که خپه کېږې نه یو خواست کومه
د ځان په ګټه نه د ستا په ګټه
راشه کتاب د دې سندرو چاپ کړه
ګرانې پوهېږې کنه ؟
د ا شاعرې خو د شاعر نه د عوام حق دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنجوسي مه کوه حق ورسوه
د زړونو ژبې ته خدمت وکوه
د ارمانونو د لوستونکو سترګې
اوبه اوبه کړه تندې وتښتوه
ای د طبعیت شاعرې!
ته پرې هیڅ څه له ځانه مه ورکوه
د چاپ مالي لګښت یې زه اخلمه
زه هم غریب یم چندان وس نلرم
خو د ځوانۍ سیکې پریمانه لرم
څومره چې وړې درسره یو یې سه خپل کار پرې وکړه
ای د طبعیت شاعرې!
زه یوه پته درکړم
د وفاښار کې
د هیلو چم کې
او بیا په ښې اړخ کې د مینې په نوم
په کتاب ځای کې دې سندرې چاپ کړه
ګوره کمپوز یې نکړې
د مخ پر پاڼو دې سندرې فطرتي کمپوز دي
هم په کتاب د زمانې سریزه ونه لیکې
ځکه کتاب باندې سریزه اوس څوک نه خوښوي
خو
دغه یوه خبره یاده لره
چې د پښتنې انځور یې
د یوې تازه شنې زرغونې وکاږه
ځکه چې شنه زرغونه
په رنګارنګ لباس کې ډېر ښه لري
د کتاب نوم دې کېږده
ګرانې !
اوبو کې رانجه .

۱۳۸۳ چنګاښ ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګیله

زما د شړۍ زما د شملې په سرکې سره ګلابه
زما په مينه کې روان ځپه ځپه ګلابه

ما د هيندارو په اوبو کې ستا نظر بلوه
ما د سندرو په خوږو شرابو ډېر لمانځلې
ما دې ښکالو ته بدرګه له ترنمه راوړه
ما دهنر د خوږو ځنو رنګ کې هم پېيلې
د يو خوارۀ احساس پر ژبه لکه نوم د جانان
په خداى چې ګرانه ما خو ته کړلې ته کړلې
د پښتني عادت له مخې مې غېږ پرانستله
ما د ښښترو او د غرونو شاعر وبللې
ځنګه دې مخ د مرور سپرلي په څېر واړاوه
خدايزده د کومې زوروې ښکال رنګ يوړې ؟
له ټولنيزه محبته دې الس ومه خېژه
د ځان ځانۍ په لور د کومې ادا شرنګ يوړې ؟
سندريز غږ دې د چمبې په شانته شور نه کوي
ښايي اشنا د زمانې د غرور زنګ يوړې
مستا نه ! اوس دې د حسينو جامې هم اغوستې
رنګ دنکريزو که خوارۀ بوى د لونګ يوړې؟

ګرانه ! ته ګرم نه يې چې زه چاته الس وغځوم
لاس مې پرې کېږي په مړوند کې ځوک مې لاس نه نيسي
زما د ځان غوندې جانان هم ما د ژوند لاره کې
له پښو ونيسي له غوږ ځخه مې پاس نه نيسي
هو دادې حق دى چې مې زړه د اور په کاڼو ولې
ځوک چې ښيښې پرې کوي غلى پرې الماس نه نيسي
د بخت په تورو ګردابونو کې مې ساه بنده ده
د ژوند کتونکې مې نظر نيسي احساس نه نيسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

منم چي زه به په سندروکې څه نلرمه
د تخیل په مینارو به لاس برى نلرم
خو ما دمیني جانانه پېغله چینه وبوله
څه که اوبو ته د چا لپوکې منګی نلرم
که څوک مې ځواني هیلي ربېي لکه شنه فصلونه
کومې کینې ته په سینه کې ګرانه ځاى نلرم
عمر دې ګل مه شه شاعره ګله ګل واوسې
زه په خپل ژوند کې بې دمینې بل کوم شی نه لرم

۱۳۸۵ وږی ۱۳
د شمشاد تلویزیون کابل

## دلمر جامې

عجیب قاتل دی
عجیب هنر کوي

دلمر جامې واغوندي
را نه چاپېر تاوېږي

د ژوند ځوانۍ نه مې
دمینې سیوري
په رڼا ماتوي

۵ / ۱۱ / ۱۳۸۲
کابل وزیر محمد اکبر خان مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وريته غنم

سلام سلام په ډېره مينه سلام
د نوي کال دې مبارک شه ګلې
د پسرلي په شان ته شين ټيکرى دې
په ګلورينو وړانګو ډک شه ګلې
زه چې سحر له خوبه پاڅيد مه
ما د لمانځه نه پس ياسين ولوسته
تا ته مې ډېرې دعاګانې وکړې
خوږو خوږو هيلو امين ولوسته
سږ کال خو کال په جم او جوش کې راغى
څنګه دې ستا د طبعيت ګلدرې؟
ژوند به دمينې ساز کې و نڅوې ؟
د خوږ نظر جنت جنت ګلدرې
نن فولکلوريک روايت وکاروه
نن دې دښې سترګې کجل بدل کړه
د زمانې په کړ ليچونو باندې
ښايست لمبه کړه ناز پر ګل بدل کړه
څنې دې ځوانې اداګانې کوي
ښايې هنر دې په زړګې ژوند کوي
په سرو لاسو کې د غميو ګوتې
دا کليوال عادت دې ډېر خوند کوي
پام کوه ډېر د وخت له وږيو سترګو
په هر ځېک ځېک سپيره وربړې
سپېلنې ډېر دود کړه زيارت ته چې ځې
د چا پر چا ښه ځوانې نه لوربړې
هو ! رانه هېر وو دا په ډېره منه
يو څه مې تا ته ليونۍ راوړې
د خړ څادر په خړه پيڅکه کې مې
وريته غنم درته ډالۍ راوړې

۱۳۸۵ ورى ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما خوږې مورجانې ته :

## هغه

هاغه پورې شین بخونه غونډۍ ګورې!
چارچاپېره ترېنه شنې ونې ولاړې
هلته پروت زما ارمان زما جنت دی
بام د مینې ته د زړه ستنې ولاړې
چې د سرو شنو مرغکیو سیل پرې ګرځي
د خوږ لفظو اوازونو پرې اتڼ دی
پستور پرې له شینکې اسمانه اورې
د قدرت د رحمتونو پرې اتڼ دی
هغه شنه جنډه چې رپې نرې باد ته
پرې لیکلې مې سپېڅلې کلیمه ده
ها زما د خوږې مینې سر چینه ده
د ژوندون د تصویرونو اینه ده
هغه دوې شناختې او ځلې چې ښکارېږي.
په وړو وړو زرینو شګو رنګ دی
چې د ژوند د وړمو ساز کې یې زه ساز کړم
ها ، ګالب هلته د مرګ کړۍ کې زنګ دی
رانه الړه ته وا خوب کې مې ساه لاړه
د ژړا د غرونو سرته یې یاغي کړم
اوس چینه د یوې زرینې شاعرۍ شوم
د دردونو په سندرو یې غني کړم
د جمعې په شپه خو خامخا ورځمه
پاکه مینه یې په مینه مینه وایم
ایینې پرې د رڼو اوښکو کرمه
د یاسین په زمزمو یې خدای ته ستا یم.

۱۳۸۴ سلواغه ۹
دلوی اختر ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دګل پاڼي

نن یو ګل خبره مه
ملګرو دا رنګې ګل
بال ګلپاڼې لري
یوه ګلپاڼه نوراني
سپوږمۍ ده
د دې ګلپاڼې په سر تورې کرښې
یو سندریزه غوندې رنګ لري
نغمه نغمه ده
دوې ګلپاڼې یې دوزخ زېږوي
دوې ګلپاڼې یې جنت زېږوي
او دوې ګلپاڼې یې کوثر زېږوي
بله ګلپاڼه د ښایست غونډه کې
بله ګلپاڼه یې ملکه د ژوند
هم یوه بله ګرد کې ګلپاڼه
چې پر ټټر یې یو وړانګین تپی دی
خوا ته یې دوې ګلپاڼې نورې
اخ لکه د عشق جامونه
هم له دې ګله دوې ګلپاڼې خوړند
په یوه رنګ دې خو ګلپاڼې جدا
لکه د لمر یوه طالیې وړانګه
چې په اوبو کې له هینداري نه مچکې واخلي

۱۳۸۲ ورى ۲۰
اریوب ځائي خیر مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جهانونه منزلونه

ړوند خو نه يې نه ړوند مه شې جانانه
په السوکې مې کلپونه دي جانانه
په ليمو کې مې دوه نيم کتابه لوست دي
په احساس کې مې اورونه دي جانانه

د قتلونو غبارونه ترې چا پير دي
د جذبو په اتڼونو خنجر ګډ دی
چې د ميني سرې پټې وې پرې ترلې
اوس پر هغو ارمانونو خنجر ګډ دی

د بړينو غشو ژبې دې ايستلي
زمانو کړلې د زړونو چيني وچې
غبرګې غبرګې ځنې نه شي کيښوی سر ته
د خوږو خوږو خوبونو چيني وچې

د سکروټو فرش څپک په څپک خور دی
په تنهاکو په زګيرويو کې مو ژوند دی
جهانونه مزلونه مو تر منځه
د بيلتون په سرو کړيو کې مو ژوند دی

د مو سکا ګلداري بې کچې خپه دي
د باران له ترنم نه مروري
دردوونکي غږ ته يې نشته ځوابونه
بتخانې دې له صنم نه مروري

نو د زړه د غوښتو خوله مې ده پرانستې
د خوږې ميني سيندونه پکې مينځه
موده وشوه تخيل مې پيکه شوی
د نظر د مالګو غرونه پکې مينځه

۱۳۸۳ کب ۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمبه

شپه که هر څومره
دتیارو تې
د شیبو جام ته لوشي
تې به وي تور
زيږوي سپينې شيدې
پوهيږې؟
سپينې شيدې
د رڼا يې نښه ده

۱۳۸۳ وری ۳
کابل ګلاچه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ځواني مرګ ورور
سید غني غني ته:

## په دې ګومان مه شې چې هیر به دې کړم

زه چې کوم دنګ یا غې پښتون وینم
د ژړا خوړین غر شمه ته رایاد شې
د پښتنانه احساس ځیره رنګ کې مې
لکه سپرلی راشین شې ګل اباد شې
پر ځواني مرګې لارې تللیه ګله!
ښکته دې غبرګه کې دنګ سر یوړو
ماته دې غرونه غرونه درد پرېښودو
تا د ګلونو سمندر یوړو
وخت بې ګوناه راته ثابت کړې ګرانه
ته پر اسلام ته پر پښتو مین وې
ته ددې خاورې یو رښتونی بچی
ته په دې دښتو په دې غرو مین وې
تا د حماس په برج کې ژوند تېراوه
لوی مبارز لوی مبتکر انسان وې
تا غلامې سور جهنم بللو
د ازادۍ د جنګ سر تېر انسان وې
په دې ګومان مه شې چې هېر به دې کړم
نوم دې کرم د زړه پرځمکه ګله!
د حال، ماضې پردو کې نه راښکارې
په یو مجهول جهان کې ورکه ګله!
که زمانو د رمز هینداره راکړه
ستا دقاتل تصویر به وژباړمه
خاموشه ژبه به یې سره تبۍ کړم
د شپو روان بهیر به وژباړمه
بیا به د وړانګو نه جنډه جوړه کړم
ستا پر خاورین ځلي به وریږي
شعار به دارنګې پرې ولیکمه
بد مه کوئ څکه بد نه زرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګرانې!

سترګې دې وايي
چې په مينه باندې تيره کېږده
ګرانې!
باران چې اوري
ځمکه به نه لمد  بېږي؟

۱۳۸۳ تله ۳
اريوب ځائي خبر مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه پرکه سپوږمۍ

که د جام نسکوریدو ته خوله د ګل شوي
پر اوبو به زرين شرنګ د زمزمې شي
بيا به ځي درپسې تول د ګلو غرونه
بيا به پېغله شنه لمن د زمانې شي

د نازونو د سپرلي پر لېچو اوره
چې پر څنو دې طبعيت شال د خندا شي
زره چاودې حوصلې مو کړه راغونډې
چې مين مين ماښام مو په نڅا شي

که سکروټو له خماره څکه وکړه
بيا به ګورې چې لذت کې مرينه څه ده
چې دې زړه د زړه په خوله کې مين خوب شي
بيا به ګورې چې ژوند څه دی مينه څه ده

ګناهونه به په منډو درته راشي
چې لمده دې په خولو باندې سيلۍ شي
بيا دې ګوره د ټټر سپينې روپۍ ته
ناڅاپې به پکې دوه پرکه سپوږمۍ شي
نو راماته شه د لوړ غرور ملکې!
چې ياغي زور دې ډېوه کړمه د فکر
پر جبين دې د مچکو سجدې غواړم
چې جذبې دې څانګې څانګې کړم د ذکر

چې نظر دې د خوږو سترګو راخوږ شي
دې احساس کې د هيندارو مانۍ لامبي
د خامکو په دسمال کې مې چينه ده
پکې ستا غوندې سپين چکه ! نجلۍ لامبي

۱۳۸۳ زمرى۱
شمشاد تلويزيون کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## افغانستان

جام د کوثر که د شهید پر شونډو پروت و بیا هم
د خپل وطن د ازادۍ اوبو ارمان کې به و
خدای که په دې دنیا جنت وای پیداکړی چېرته
زه په ایمان وایم چې ګران افغانستان کې به و

۱۳۸۱ وری ۱
کابل

## چې د خدای سره غرېږم

راوړه سترګې دې زما سترګو کې کېږده
چې لوړ غرونه درته لوړې ایینې شي
چې د خدای سره غرېږم ته رایاد شې
د ا ګوناوې دې جانانه تاپسې شي

۱۳۸۴ سلواغه ۴
کابل نوې کارته د برقی کلا

## اووم براعظم

اور اور شي غوښتنې اخ چې خام نظر په خامه خوله
مینه شي د ګلو کتا بونه غېږ کې ونیسي

اوس چې شو اووم براعظم د ښکلا ځوان جانان
اوس به د سپرلیو هیوادونه غېږ کې ونیسي

۱۳۸۵ وری ۱۷
کابل نوې کارته د برقی کلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کاڼي چې مين شي

خدايه !مستانه سترګې يې واوښتې له غرونو نه
چاته به دميني خوږې لارې ترېنه جوړې کړي ؟

مه کوه زمونږ د ځوانو زړونو د مرګي هڅه
کاڼي چې مين شي خداى هينداريې ترېنه جوړې کړي

۱۳۸۵
اريوب ځائي خېرمېنه

## بد نصيب

د سرو لعلونو خزانه وي خو چې لاس وروړو
مونږ بد نصيبو ته د مړو ايرو کندو وخېژي

مجبور يو لاس د ميني بيا چاته ونه غځوو
په چا چې واچوو سلام هغه هندو وخېژي

۱۳۸۱ زمرى ۲۲
اريوب ځائي خېرمېنه

## ګوناه به وکړي

شډل به ښکارم چې پښتون يم ليونۍ زماني!
لباس د خښتې لکه ختې په قالب کومه

ښکليه ! ګوناه به وکړې پام نظر مې ونه ترورې
زه ستا په سترګو کې ديدار د ښکلي رب کومه

۱۳۸۱ تله ۱۰
اريوب ځائي خېرمېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تنې تنې

پسې الماس د شعر د ژبې ښه تېره ګرځوم
په جامه سپین لکه ښیښه د ریا پیر لټوم

بیګاه په خوب کې په تنې تنې مې نوم د جانان
نن دیو ښکلي په لیمو کې یې تعبیر لټوم

۱۳۸۱ تله ۲۵
ځائي بابا ادبي ټولنه
اریوب

## ملک بلا خوړلی

په ښه او بد پسې به نه ګرځې بلا دې واخلم
دلته چندې هم په پښو کې د اس نال ګرځوي

هغه زمونږ د کلي لوړ ملک بلا خوړلی
د ملکۍ پټکی په سر اوس یو کلال ګرځوي

۱۳۸۱ تله ۳
اریوب ځائي خبرمېنه

## د ایینې ټټر

زه چې نغمې د هر پرهار په شونډو سازې کړمه
د ګل تصویر د ایینو پر سپین ټټر وخاندي

مونږ یې ترلي د حالاتو ددوزخ په زنځیر
څه که جنت ددې نړدې کنډو پر سر وخاندي
۱۳۸۱ وږی ۲۵
اریوب ځائي خبرمېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تاتا

د انګار غشي مه وله د ښېرو ګوډي به يوسي
ګوره دي خړو کوځو کې ملنګان د نغمو شته دي

ماشوم خيال مې په تاتا او په خپوړو ورځې ځکه
د ګلپاڼو په تيونو کې شيدې د ورېمو شته دي

۱۳۸۱لړم ۱۸
اريوب ځائي خېرمېنه

## کومه وجه

ګل د کاڼي په پرهار کې غبرګ کړه خلاصه
ستا د شونډو په تمبو کې موسکا نشته

د لمبو نه تاو په کومه وجه ببل شو؟
په نظر کې دي نن شوخه ادا نشته

۱۳۸۵لړم۱۰
اريوب ځائي خېرمېنه

## څه ګودر خونه يم

ډېر به مې هم نه وهي د شوخ ناز په ځېره خپړ
زه لکه ماشوم په نه خبره مرور يمه

ورې رانه همېش په لپو لپو د تن سرې ويني
ګرانه ! څه ګودر خو نه يم هسې يو پرهر يمه
۱۳۸۱لړم ۱۵
اريوب ځائي خېرمېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دا به یې ښیګڼه ګڼم

لکه لیوه د پیرې ښکار له ښه بیدار ولاړیم
خو وخت پر ما هیڅ دوبره د زړګې غل نه راوړي

چې خپل تندی مات کړم پرې دا به یې ښیګڼه ګڼم
جانان دې کاڼی ماته راوړي خیر که ګل نه راوړي

۱۳۸۲ زمری ۲۱
کابل

## ستړي خولې

د وخت بلا وو راته ستړې خولې خلاصې دي
ګنې په غشو د ښامار ویشتنه ګرانه نه ده

که مونږ نه وینې ځې له دوی هم شیدې نه بهېږي
بس ګوزاره کوو د ځان پوښتنه ګرانه نه ده.

۱۳۸۱ لیندی ۲
اریوب ځائې خېرمېنه

## تناکې

پېښې د تخیل مې پرې تناکې شوې
د ښته د ښایست دې اوروریته ده

شونډې دې د موم په شان ته نرمې دي
ناسته پرې خبره ډېرینه ده

۱۳۸۲ وری ۱۳
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دوزخ لوږه

خود به يې سترګې د ناترسه دوزخ لوږه بولو
چې په اور اور نظرو غرونه پورې ورې شلوي

په شنه پړوني کې يې سپينې ايينې مه ګڼه
هغه تمامه شپه له شنه اسمانه ستورې شلوي

۱۳۸۲ وری ۱
کابل نوی ښار

## ونيوم

هسې څه زړې مې قبول و ګڼې ستا د لاسه
ليونتوب ورې وم خو کلک خپلې پښتو ونيوم

ليونۍ ميني ته دې څو ځله قايل شوی يم
دا هم منم چې زمانې ته دې له پښو ونيوم

۱۳۸۲ زمری ۲۵
کابل

## دم ختلې هيلې

ما يې رڼا ته د خپل غوځ زړه پرهارونه ګنډل
لکه ډيوې مې پخو شپو کې بلولې هيلې

ستا د ښايست تر لوړې څوکې چې ونه رسيدم
ببرته مې راوړې ماتې ماتې دم ختلې هيلې

۱۳۸۲ وری ۲۳
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## للومې کړه

ښکلې به بدرنګ کړې ایرې مه شینده
ناست مې په لیمو کې تصویرونه دي

راوله نظر پرما للو مې کړه
سترګې دې خوارې خوبونه دي

۱۳۸۲لړم۵
رشاد ادبي کره کتنه کابل تایمني

## زما خوی لري

د خیال کوپړۍ مې شوه ډنډوکی د باران اوبو ته
پکې د لوړو غرو سرچک مرغان منښوکې وهي

ګړنګ هم غوږ لري او خوله لري زما خوی لري
کوکې مې اوري په ځواب کې راته کوکې وهي

۱۳۸۲لیندۍ ۲۳
اریوب ځائې خبرمښه

## نا ممکنه ده

دا نا ممکنه ده چې ننګه زمرۍ
څوک دهوسۍ بچونې خام ته لوېشي

د ګل تیونو نه شیدې د وږمو
په تورو ګوتو د اور جام ته لوېشي

۱۳۸۲لیندۍ ۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اریوب لار

مدام سرې ښه خوی کې سرې ښه نه وي زرګیه!
د عشق د لیونتوب په لاره کله ځه

خدای مه کړه چې تصویر دې د یار سترګو کې تت نشي
جلانه د اریوب په لاره کله ځه

۱۳۸۴لړم۱۲
کابل

## روان پوه

وخت روان پوه شوی دی هیڅ راز د میني نه ساتي
ګوره خپله ښې سترګه دې پټه پټه پویه کړه

ما ورته د زړه ددروازې غبرګه پرانستې ده
خدای دې دا وړه خندا په شونډو زر رالویه کړه

۱۳۸۲مرغومی۱۲
افغان ادبي بهیر کابل تایمنی

## لوړه نښتره!

د سترو زړو دمه مو نه کېږي په بل چا باندي
دا ته که مرګ يې او که وير يې خو بیا هم ټکور یې

په سپین ټټر دې د تېرو غشو خاپونه ناست دي
لوړه نښتره ! شاید ته هم د مینو ورور یې

۱۳۸۲لیندی۱۷
اریوب ځائي خېرمېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زما سیوری

د لمر غوندې جامې چې ورته وانه غوندې ګرانه
په تورو او په کاڼو زما سیوری نه ماتېږي

که ژبه رانه پرې کړې نو ګونګی به شم رقیبه!
احساس نه مې د یار د نامې توری نه ماتېږي

۱۳۸۲ سلواغه ۵
کابل وزیراکبرخان مېنه

## د غرور لمر

ما دلیمو کتاب ستا مخ ته غوړولی و خو
ای د غرور د اسمان لمره !درنه هېر شوم ولې؟

دا خو دنیا ده خلک ښه منظرته سترګې نیسي
ښکلیه ! ستا مخ ته چې مې وکتل کاپر شوم ولې؟

۱۳۸۱ غبرګولی ۲۱
اریوب ځائي خېرمینه

## په ښیروکې مینه

کله نا کله په ښیرو کې مینه هم یادوه
وریځې هم تورو برګو پیڅو کې باران ځایوي

له جادوګر نازه دې سل ځله لوګی جانانه!
لکه ښکاري په یو نظر کې بیا بان ځایوي

۱۳۸۲ مرغومی ۲۸
افغان ادبي بهیر کابل تایمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دنګه میناره

سلګۍ سلګۍ شیبې وې چې دوربین کې د خوارېه خیال
لیدله مې د وخت له یو کږنګه میناره

له ځان نه غېږه تاو کړم او په ځان مې دمه وشي
ځواني د جانان هم ده لکه دنګه میناره

۱۳۸۲لیندۍ ۲۳
اریوب ځائي خېرمېنه

## زما زړه

هرڅو که د خپل تن په غوښو موړ دی زما زړه
بیا هم د مینې ورور دی سرېخور دی زما زړه

د خدای د کایناتو ایینه کې چې یې ګورم
کټ مټ سپینچکه ! ستا په شان ته جوړ دی زما زړه

۱۳۸۴لړم ۲۴
کابل نوي کارته

## تنې

شاعر به شم ملګرو د جانان غوندي سندره
پیدا مې کړه د ګل د ګرېوانه یوه تنې کې

پوهېږم چې په سر باندې مې خاورې ایرې نولې
خو تاته به ژوند غوارم د نرګسو په مانۍ کې

۱۳۸۴ وږی ۲۲
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زمونږ ژوند دی

زمونږ خوښېږي زمونږ ژوند دی ژوند همدغه مانا
د حورو لیچې شي سرې شونډې دموسکا لباس کې

شرم نیولي ګڼې تول مرې دي په مینې پسې
هر څوک مین دی څوک شاعر څوک د ملا لباس کې

۱۳۸۴ چنګاښ ۲۵
کابل

## بارانیز ماښام

سترګې دې واغوندي جامې د پسرلي د چینو
چې له بڼو نه دې ګلچک ګلچک نظر لاندې شي

رایاد شي ته ، لویه هینداره منځ کې بله ډیوه
چې بارانیز ماښام نه څوکه د سپین غر لاندې شي

۱۳۸۴ وږی ۱۴
کابل

## د زړونو کیسې

زمونږ د چم په اینو باندې غبار مه کړه
زومړیه !مات به دې کړي دا خلک میرات خو نه دي

د مینې رمز کې څوک راګډ نکړې ساده جانانه!
دا خو د زړو کیسې دي څه انتخابات خو نه دي

۱۳۸۴
افغان ادبي بهیر کابل تایمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شليدلی جام

خير وکړي غرور دې د ليمو په پيڅو اور اخلي
لمر چې په لوېدو شي نو د غرو له څوکو والوزي

زړه شليدلی جام بوله چې مينه مروره شي
عقل خو بايد چې د مغزو له څوکو والوزي

۱۳۸۴
افغان ادبي بهير کابل تايمني

## رحم

زړګيه ! ځان محکم کړه د ژوند په هره دښته
دې وخت کرلي لارې ببلې ببلي دي د اور

منم د ګلاليو سترګو رحم دې اشنا خو
اوبه که خوږ نعمت دی خو قاتلې دي د اور

۱۳۸۴لړم۵
کابل

## د شيدو غوندې نظر

ګله ! زړه يې مات نکړې د مينې بختور يې کړه
دنګ ملنګ که سپينه شونډه وغوښته نو ور يې کړه

لا دې د شيدو غوندې نظر په سترګک پوه نه دی
لا خو ګلالی ماشوم دی ځوان يې کړه راستر يې کړه.

۱۳۸۴ سلواغه ۳
کابل نوې کارته د برقی کلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خامخا

ته مې د رنګ د توریدو پوښتنه ولې کوې؟
بس ویلې کېږي څوک چې وازده په انکار ونیسي

څوک چې ښایست ترخنګ مغرور شي زه یې ګرم نه ګڼم
ګل چې زلمی شي خا مخا لاسو کې خار ونیسي

۱۳۸۳غبرګولی ۱۵
کابل کلاچه

## ما پرې قانع کړه

ګرو به کېږدو په دلیل او په منطق غږېږو
ما پرې قانع کړه چې حساب ته دې حساب ووایم

شکر پوهېږمه د ستا په خوله ځان پړ نه بولم
کېنه پښتون ته چې هر سوال ته دې ځواب ووایم

۱۳۸۵
اریوب ځائې خېرمېنه

## ډالۍ

زما په لیدو زما ګل رنګ په ځان کې داسې ورک شي
لکه ماهي چې ښخ ته لوېږي د اوبو له بامه

شاعر جانان مې ماښامونو پسې ډېر لګېږي
خدایزده څه ټکه پرې لوېدلې ده د شپو له بامه

۱۳۸۵
اریوب ځائې خېرمېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ګېډۍ کمیس

خود به ستا غرور ما غرني عادت ته واړوي
جام چې له منګي څخه ګوزار شي ضرور کړنګ کوي

زړه وکړه ګل ځانګې په ګېډي کمیس کې پلې شه
تاته انتظار یو څوک د هیلو پر پالنګ کوي

۱۳۸۵
کابل

## د نظر غېږه

ګل ورغوي کې پیاله د وړمو ایښې
خبر نه دی د لمبو له انقلا به

د نظر غېږه را پرانېزه جانانه!
لمبه کېږم د جذبو له انقلابه

۱۳۸۱غويي ۱۳
اریوب ځائې خېرمېنه

## تخیل

جذبه جذبه فطرت مې سرو لمبو ته غېږه ورکړه
په داسې لیونتوب مې لیونی تخیل مړ کړ

سندرې تويدې ترې لکه پانې له چناره
يو څو شوخو بڼو زما زلمی تخیل مړ کړ

۱۳۸۱غويي ۱۹
اریوب ځائې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځونډۍ

لمر لکه د وړانګو ځونډۍ پروت يې په ټټر کې دی
څه جنتي کيف په دې شډل پډل بشر کې دی

لېو نه مې زېړمازديګر توی دانه دانه شو پرې
څه عجيبه زور يې د ماښام غوندې نظر کې دی

۱۳۸۵
اريوب ځائي خيرمينه

## ورغوي

وختونه کوي لوبې د وختونو په ورغوو
دردونه وروي زمونږ د زړونو په ورغوو

کوم دې ديدنونه څه په تورو تورو شپو کې
را اورې مې جانانه ! د خوبونو په ورغوو

۱۳۸۱ غبرګولی ۱۳
اريوب ځائي خېرمېنه

## راپېښ

تر سپينې ايينې چرمې ګلکرې غزيدې
ستا مخ ته د زلمي شاعر سندرې غځيدې

ناڅاپه چې راپېښ شولې جانانه ځومره ښه
پرون مې ستا په نوم پسې خبرې غځيدې

۱۳۸۱ غويي ۳۰
اريوب ځائي خېرمېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څانګه

ساز مې سپيني څړيکې شوې پستو پستو رګونو کې
اخ د ګلو څانګه شومه لمرته غېږه غېږه شوم

بيا مې د خمار په اننګيو توبه ښکلې کړه
تاو شومه راتاو شومه ساغر ته غېږه غېږه شوم

۱۳۸۱غبرګولی۱
اريوب ځائی خېرمېنه

## دميني اوبه

تا چې په تورو کاڼو پلې کړې د ميني اوبه
زماني وايه اوس دې هره ادا ورېم پر اورېو

ستړې دعا مې د امين په اورېو داسې بار کړه
لکه جانان چې وعده بار کړې د قسم پر اورېو

۱۳۸۱غبرګولی۵
اريوب ځائې خېرمېنه

## شپه يې بار کړه

جانانه شپه يې بار کړه د ملا د بانګ په ولو
در ځار شم له ګل ځانګو نه سرپورته کړه سحر شو

تعجب ! د ليونۍ زمانې ببل غوندې انصاف دی
پرون يې په سر تار نه و نن خومره څنور شو

۱۳۸۱غبرګولی۱۴
اريوب ځائې خېرمېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ژبه

پخپله ژبه د وعدو ژبه تنهاکې نکړې
جانانه پام چې د پښتو ژبه تنهاکې نکړې

د تخيل د انځورګر ګوتو بلا دې واخلم
د ملاليو د ټپو ژبه تنهاکې نکړې

۱۳۸۲ وږی ۲
کابل

## د لمبو ډال

خوږې خبرې دمين مينه ناک خيال ښوروي
که يې پستې څنې نرى نرى شمال ښوروي

د خپل نظر غشي په کوم هنر وروشړمه ؟
ښکلى د ځان سره هر وخت د لمبو ډال ښوروي.

۱۳۸۱ تله ۲۸
اريوب ځائې خبرمينه

## د شعور زيرمې

د زمانو د نفسياتي ځپرو کې داسې کيسې
مونږ يې د ذهن د پردو شاته هم پټې لولو

سرې دې نشې د سالمې سيالۍ ګرمې جګړې
د شعور زېرمې ډکوو بلې سکروټې لولو

۱۳۸۵
کابل نوى ښار د غزل ماښام مشاعره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوه شپه

څه وکړم لمبو په مخه کړی یم
څنګه تاته تېرې کیسې وکړمه

خدای دې یوه شپه جانانه راوله
بیا به درته ډېرې کیسې وکړمه

۱۳۸۳کب۱۲
اریوب ځائي خېرمېنه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**